مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مطیع الله روهیال

۲۰۲۱/۱۲/۱۰

# د بابل خان

## (پر محتوی او ژباړه ښو خبري)

### د محتوی اړخ:

متل دئ چي: "د زرو قدر له زرګر سره وي" د شتمن کېدو راز به له واقعي شتمنه پوښتي، د هغه له کړو وړو څخه به زده کړه کوي او له خپلي کمبلي سره به سمي پښي غځوي. د بابل خان هم د ناول په ژبه د یوه مجرب شتمن د ژوند داستان وايي. د هغه د ژوند له لوړو ژورو مو خبروي او موږ ته راښيي چي څنګه شتمني تر لاسه کړو، تر لاسه کړي شتمني څنګه استفاده کړو او په تر لاسه سوي ګټه څه وکړو.

د سرو زرو په پنځو قوانینو کي لومړی قانون راته وايي: "سره زر د هغه چا کره په ډېره خوښی ورځي او ورځ په ورځ نور هم زیاتیږي چي د خپلي راتلونکي او کورنۍ له پاره د خپل عاید لږ تر لږه لسمه برخه سپموي. که څوک په منظم ډول د خپل عاید لسمه برخه وسپموي او بیا یې په سم ډول په کار واچوي بې له شکه به یوه ارزښتناکه شتمني تر لاسه کړي چي هغه به بیا نوره ګټه پسي راوړي او له دې نړۍ څخه د ده تر لېږدېدو وروسته به یې د کورنۍ ژوند خوندي وي. د دغه قانون له مخي دغسي کسانو ته شتمني په ډېره خوښی ورځي. دا شی ما ته هم په خپل ژوند کي تجربه سوی دئ. هر څومره چي مي شتمني زیاتېده هغومره په آسانۍ نوري پیسي راته راتلي. ستاسي سپمولي پیسي که هم پر کار ولویږي، ګټه کوي. هغه ګټه بیا نوره ګټه کوي او هغه بیا نوره. دا له آره د لومړي قانون د مراعاتولو نتیجه ده" (د بابل خان: ۸۶).

د خپل عاید لسمه برخه سپمول او په ورځنیو لګښتونو کي دقت د بابل خان د شتمنېدو اصلي جوهر دئ. د دې جوهر تر لاسه کول ساده پلان غواړي او پلان په دقت عملي کېده. د عاید لسمه وسپموه، ورځنی لګښت لږ کړه، د مصارفو ځای وپېژنه، پیسي په احتیاط مصرف کړه. که پورورۍ یې د پورونو په ورکړه کي جدي واوسه. د پیسو د بېځایه استعمال او ناحقه خرابات مخنیوی وکړه، عاید او مصارف وسنجوه. سپمېدلي پیسي پر ګټه واچوه، د هغوی له ګټي څخه هوسانه برابره کړه.

د بابل خان د مالي تنګلاسیو د له منځه وړلو اووه لاري په خوږه ژبه راښيي، د دغو اوو لارو په سر کي "د خپلي کڅوړي ډکول پیل کړئ" راځي. دوهمه هغه ئې "لګښتونه مو کابو کړئ" او دریمه لاره: "سپما مو دوه برابره کړئ" ده. دغسي نوري غنیمت لاري هم راښيي، چي وروستی هغه ئې "د ګټلو وړتیا مو زیاته کړئ" ده.

د سرو زرو پنځه قوانین راښيي، هلته هم لومړی قانون د عاید د لسمي برخي پر سپما ټینګار کوي. د کتاب محتوی فقط تیوریکل اړخ نه لري، بلکي عملي جنبه ئې هم قوي ده. عملي جنبه ئې د لرغون پېژندني څانګي د غړي د الفرډ. اچ. شروزبري په لیک کي وینو. زما په خیال د دې کتاب د محتوی عملي اړخ د شروزبري لیک ته اړتیا نه لري. هر څوک کولای سي په ساده ډول ئې عملي کړي او نتیجه ئې د سر په سترګو ووینې.

زه چي د خپلو ځوانانو ځای بېځایه خراباتونه، هوټل والا ته د پیسي په ورکړه کي تېلي و تمبي وینم یقین مي راځي چي د دغو ځوانانو اکثر برخه نه دقیقه عایداتي منبع لري او نه د خپلو پیسو مصرف ته سم پلان. یوه ورځ دریاب وي بله ورځ کریاب، یوه ورځ شل مروي بله ورځ ئې د پلار جیب ته سترګي چیکي وي. دغسي ځوانان که د بابل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

خان په دقت مطالعه او عملي کړي، باوري يم چي هم به ئي د ځان سره احسان کړی وي او هم به د ټولني د اوږو بار نه وي.

## د ژباړي ژبه:

د فراز ټولي ژباړي يوه تر بلي بهتره دي، خو "د بابل خان" ژباړي ما ته تر نورو هغو زيات خوند راکړ. په ژباړه کي دقت، د پښتو اصطلاحاتو پر ځای کارونه، د بېلابېلو لهجو د لغتونو، ترکيبونو او اصطلاحاتو استعمال، ځيني پر ځای مغفنات هغه څه دي چي ژباړه ئي ډېره سليسه او طبيعي کړې ده.

د دې ژباړي د مطالعي پر مهال ما ته د پښتو د مشهور شاعر درويش دراني د شعر ژبه مخته مخته کېده. د ښاغلي درويش دراني د شعر ذاتي ښېګني پر خپل ځای خو د شعر ژبه ئي بيخي پامور ده. درويش درانی په شعوري توګه دي خوا ته متوجه دئ چي په شعر کي ئي د پښتو ژبي د ټولو لويو لهجو ويونکي خپل ځان وويني، دغه چاره سخته ده، د هر چا د وس خبره نه ده، خو کوم کسان چي ئي په شعوري ډول او دقت سره پالي او استعمالوي په حقه سره ئي لوستونکي او خبنوونکي هم زيات دي.

د ښاغلي جبار فراز د ترجمي په ژبه کي هم دغه ځانګړتيا پرته ده. زه ئي ځيني نموني په لاندي ډول در وړاندي کوم:

د اصطلاحاتو په برخه کي: "په خېټه کي د سپيو غپل" د جنوبي لهجي عامه اصطلاح ده چي د ډېري لوړي له پاره استعمالېږي، "ژبه يو ډانګ درېدل" بله خوندوره اصطلاح ده چي د استعمال بېلابېل موارد لري، "په اندامونو لړزه ګډېدل"، "زړه تور دود کېدل"، "ټککه کېدل"، "د خنداوو کړسا پورته کېدل" او داسي نوري لسګوني اصطلاح ګاني دي چي په بېخي خوندور ډول د لومړۍ ژبي ځای ناستي سوي دي. دغسي ځيني اصطلاحات او لغتونه ئي په لمنليکونو کي په لنډ ډول توضيح کړي دي.

د هر مضمون پيل ئي ځانګړی انداز لري، هم هېښوونکی هم له تلوسي ډک، هم د ناول ژبه پکښي مراعت سوي هم د مطلب ټکی بيان سوی، زه ئي دوه درې مثاله درکوم: "يوه له سرو زرو ډکه کڅوړه ده او بله ختينه لوحه چي حکيمانه خبري پر ليکلي دي. که تاسي ته د انتخاب حق درکړل سي کومه يوه اخلئ؟" بل پيل: "پخوانی عسکر بوډا بنزار د بابل د لرغونو دېوالونو سر ته د پورته سوي لاري په خوله کي د ساتونکي په توګه ولاړ وو. د دېوال پر سر زړورو سرتېرو د دفاع جګړه کوله. د دغه څو زره کلن ستر ښار راتلونکي د همدوی په هڅو ځړېده". د يو بل پيل ترجمه هم ولولئ: "د بابلي سوداګرو شازاده شاروناډا په ډېر غرور د کاروان په سر کي سپور روان وو. د هغه له پستو ټوکرانو سره جوړه وه او ډېري ګرانبيه جامې يې اغوستي. له حيوانانو سره يې هم مينه لرله او پر يوه ښکلي عربي آس به سپرېد".

د پخوانيو لغتونو په استعمال کي د (تادي = تلوار) کاروني خوند راکړ، په مغفاتو کي د (قصاب) پر ځای د (کساب) استعمال زيات پامور او پر ځای مغفن دئ. موږ په پښتو ژبه کي د عربي قميص او قصي پر ځای د هغوی مغفن سوي کميس او کيسه شکلونه کاروو، کساب هم پر دغو مغفناتو ښه اضافه ده.

ژباړه د دغو ښېګڼو تر څنګ زياتي نوري ځانګړتياوي هم لري، د مُشت نمونه خروار پر اساس همدا څو بسنه کوي، خو د دغو ټولو ځانګړتياوو تر څنګ ځيني د (خو) ځايونه هم لري، يادونه ئي بېځايه نه ده:

لومړی: د کتاب د ژبي او ليکوال په اړه هيڅ معلومات نه دي ورکول سوي، ښه به وای چي د کتاب د ليکوال او د ژبي په اړه هم لنډه يادونه راغلي وای چي کتاب له کومي ژبي څخه ترجمه سوی دئ او ليکوال ئي څوک دئ؟

دوهم: د کتاب په ترجمه کي څو ځايه د (روح) کلمه د ښځينه کلمي په شکل راغلي ده، نور متعلقات ئي هم ښځينه راغلي دي، زه چي دغي کلمي ته د پښتو په عينکو کي ګورم هيڅ ښځينه نښنه نه لري، که ئي پر ځای (اروا) استعمال سوي وای بده به نه وای.

دريم: د کتاب په ۱۱۳مخ کي يو عبارت داسي راغلی دئ: "د عايد خونده مي نه وه" دا مطلق غلط لهجوي استعمال دئ، په هيڅ وجه بايد ليکلي ژبي ته لاره پيدا نه کړي، که څه هم د ځينو لويو ليکوالو په ليکنو کي تر سترګو کيږي(!) څنګه چي په جنوبي لهجه کي "غونده جوړه سول" غلط استعمال دئ، په هماغه شکل د مشرقي لهجي دغه بدخونده استعمال هم بايد ليکلي ژبي ته لاره پيدا نه کړي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په خير و لولـئ

ځلورم: د (پر) استعمال هم په ځينو ځايو کي غلط راغلی دئ. څو مثاله ئې دا دي: "پلارجانه! په دې د زړه له تله خوښ يم چي ستا پر وړاندي ولاړ يم" (۸٤ مخ)، "پخوانۍ خاطرې يې په منډه د سترګو پر وړاندي تېرېدې" (۱٤۱ مخ)، "پر يوه کنډواله بدل شو" (۱٦۱) مخ او داسي نور. په درې واړو ځايونو کي (په) استعمالېږي.
له دغو څو ځايونو څخه پرته نور نو په واقعي معنی په تول پوره او زبردسته ترجمه ده. فراز ته اوږد او صحتمند ژوند غواړم چي خپلي ژبي ته دغسي نوري ترجمې هم ورکړي.

**يادونه:**

دا ليکنه (د بابل خان – دربيم چاپ) باندي سوېده. د بابل خان مطالعه مي پای ته رسولې وه چي پر دغه غنيمت کتاب د څه ليکلو هوا راولاړه سوه، ځکه نو يادښتونه مي لنډ او په پوره تلوار اخيستي دي، دا ليکنه په هيڅ وجه د ښاغلي فراز حق اداينه نه سي کولای خو يادونه ئې حتمن کولای سي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ